سمندري گنبد (پشتو)

# سمندري ګنبد




شيخ طريقت، امير اهلسنت، باني دعوت اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

**محمد الیاس عطار قادري رضوي**

دامت برکاتهم العالية



مكتبة المدينة
MAKTABA-TUL-MADINAH

# سمندري ګُنبد


از: شیخِ طریقت امیرِ اَہلِسُنّت، بانیٔ دعوتِ اِسلامي

**حضرتِ علّامه، مولانا، ابو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوِي**

دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه


دَ ترجمي پیشکش:

مجلس تراجم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې د اُردو نه په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمي زیاتي اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.


**مجلس تراجم دعوتِ اسلامي**

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگراں

پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net



www.dawateislami.net

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندې دُعا اولولئ اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ کوم څه چه لولئ نو هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه دَ علم او دَحکمت دروازې پرانيزې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښ يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالِب د
غمِ مدينه
بقيع او بخښنې



جمادی الثانی ۱۴۳۶ھ

د رسالې نوم: سمندري ګُنبد

اول ځل: جمادی الاول ۱٤۳۷ھ، فيبرورى 2016 ء

تعداد: -----


ناشِر: مکتبةُ المدينه، عالمى مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المدينه کراچئ.



مدني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چهاپ کولو اجازت نشته


## کتاب اخستونکې توجّه اوکړئ

که دَ کتاب په طباعت کښ څه ښکاره خامې وې يا پاڼرې کمې وې يا په بائنډِنګ کښ مخکښ وروسته لګيدلې وې نو مَکْتَبَةُالْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# سمندري ګُنبد[1]

شيطٰن که هر څومره سستي درولي، دا بيان اولولئ. اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ تاسو به د الله عَزَّوَجَلَّ د يرې نه اولړزيږئ.

## په زوره د درود شريف وئيونکي بخښنه اوشوه

يو بزرګ يو وفات شوې کس په خوب کښې اوليدو، تپوس ئې ترې اوکړو: مَافَعَلَ اللهُ بِكَ؟ يعني الله عَزَّوَجَلَّ تاسو سره څه معامله اوفرمائيله؟ وئيل ئې: الله عَزَّوَجَلَّ زه اوبخښلم. تپوس ئې ترې اوکړو: په څه سبب؟ وئيل ئې: ما به د يو مُحدِّث صاحب سره حديثونه ليکل، هغوئ د نُور پيکر، د ټولو نبيانو سرور، د دواړو جهانو تاجور، سُلطانِ بحروبر صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود شريف اولوستلو نو ما په اوچت آواز درود شريف اولوستو، حاضِرو خلقو چه واوريدو نو هغوئ هم درودِ پاك اولوستلو، الله تعالٰى د هغې په برکت مونږه ټول اوبخښلو. (اَلقَولُ البَدِيع ص ۲۵۴)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

[1] دا بيان اميرِ اَهلِسُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د تبليغ قُرآن و سُنّت د عالمګير غير سياسي تحريك دعوت اِسلامي په هفته واره د سُنّتو نه ډکه اجتِماع (په 18 رجب المُرجّب 1431ھ 10-07-01) کښې فرمائيلې وو. د ترميم او اضافې سره ليکلې حاضِرِ خِدمت دې. مجلِس مکتَبَةُ المَدِينه

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

اللّٰه عَزَّوَجَلَّ حضرت سیِّدُنا سُلَیمان عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام ته وحي اوفرمائیله چه د سمندر غاړې ته لاړ شئ او زمونږ د قدرت نظاره اوګورئ. هغوئ عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام د خپلو مُصاحِبینو [یعني ملګرو] سره تشریف یوړو خو څه څیز ښکاره نه شو، یو **پیري** ته ئې حکم اوکړو چه په سمندر کښې غوپه اولګوه او د دننه خبر راوړه. هغه د غوپه لګولو نه پس بیرته راغلو او عرض ئې اوکړو: زه ویخ ته نه شوم رسیدې او څه څیز مې هم اونه لیدو. هغوئ عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام د هغه نه **طاقتور** پیري ته حکم اوکړو، هغه د ړومبي پیري په مقابله کښې د دوه همره جَوَړې پورې غوپه اولګوله خو هغه هم څه خبر را نه وړې شو. هغوئ عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام خپل وزیر **حضرت آصِف بِن برخیا** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته حکم اوکړو، هغوئ په لږ ساعت کښې یو عالیشان کافوري د څلورو دروازو والا سپین **سمندري ګنبد** (ګُم . بَد) راوړو او د سیِّدُنا سُلَیمان عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام په خدمتِ بابرکت کښې ئې حاضر کړو! د هغې یوه دروازه د **مرو**، دویمه د **یاقوتو**، دریمه د **ملغلرو** او څلورمه د **زمَرودو** وه، څلور واړه دروازې بیرته وې خو د دې باوجود په هغې کښې دننه د سمندر د اوبو یو خاڅکې هم نه وو. په هغه **سمندري ګنبد** کښې یو **ښکلې ځوان** په صفا سُتره جامو کښې په مونځ کولو کښې مشغول وو، چه کله هغه د مانځه نه فارغ شو نو حضرت سَیِّدُنا سُلَیمان عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام ورته سلام اوکړو او د هغه **سمندري ګنبد** د راز تپوس ئې ترې اوکړو. هغه عرض اوکړو یانَبِیَّ

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

الله! زما پلار معذور وو او مور مې نابينا [يعني ړنده] وه، اَلْحَمْدُ لِلّٰه ما اويا (70) كاله د هغوئ خدمت اوكړو، زما مور د وفات نه مخكښ دا دُعا اوكړه: **يا الله** عَزَّوَجَلَّ زما ځوئ له اوږد عُمر د خير سره وركړې. والِدِ مُحتَرَم مې د وفات په وخت كښ دُعا اوكړه: **يا الله** عَزَّوَجَلَّ زما ځوئ په داسې ځائ كښ په عِبادت كښ مشغول كړې چه شيطان پكښ مُداخَلت [يعني څه شرارت] نه شي كولې. د والِد مرحوم د خخولو نه پس چه زه د سمندر غاړې له راغلم نو ما دا **سمندري ګنبد** اوليدو، زه دې ته دننه ورداخل شوم. يوه **فرِښته** راغله او هغې دا ګنبد د سمندر ويخ ته كوز كړو. د سَيِّدُنا سُلَيمَان عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام په تپوس كولو هغه عرض اوكړو چه زه د حضرت سيِّدُنا اِبراهيم خَلِيلُ الله (عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام) په مقدَّسه زمانه كښ دلته راغلې يم. حضرت سَيِّدُنا سُلَيمان عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام پوهه شو چه د ده په **دې سمندري ګنبد كښ دوه زره كاله شوي دي خو تر اوسه پورې ځوان دې**، د هغه يو ويښته هم نه وو سپين شوې. د خوراك په باره كښ هغه اووئيل: هره ورځ يوه **شنه مرغۍ** په خپله مښوكه كښ څه زيړ څيز راوړي، زه هغه اوخورم، په هغې كښ د دُنيا د ټولو نعمتونو خوندونه وي، په هغې زما لوږه او تنده ماته شي. د دې نه علاوه اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ګرمي، يخني، خوب، سستي، بيهوشي، زړه تنګيدل، يره دا ټول څيزونه زما نه لرې اوسي. د هغې نه پس د هغه ځوان په خوښه د سَيِّدُنا سُلَيمان عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام په حُكم **حضرت**

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاويږي۔ (مجمع الزوائد)

**سَيِّدُنا آصِف بِن برخيا** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه هغه سمندري ګنبد واغستو او د سمندر ويخ ته ئې اورسوو. د هغې نه پس **حضرت سَيِّدُنا سُلَيمان** عَلٰی نَبِيِّنَا وَعَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام او فرمائيل: اے خلقو! الله عَزَّوَجَلَّ دِ په تاسو ټولو رحم اوفرمائي، تاسو اوليده چه د **مور او پلار** دُعا څومره مقبوله وي! [يعني قبليږي] د مور او پلار د نافرمانۍ نه ځان ساتئ. (رَوْضُ الرِّيَاحِين ص ۲۳۳ مُلَخَّصًا دار الكتب العلمية بيروت)

**د الله** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په خاطِر دِ زمونږه بخښنه اوشي.**

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چه د مور او پلار خدمت ډير لوئ سعادت دې. که د هغوئ زړه خوشحاله شي او هغوئ دُعا اوکړي نو د بنده بيړه پورې اوځي. په دې باره کښې يو بل **ايمان تازه کونکې حکايت** واورئ او خوشحاله شئ:

## زخمي ګوته

حضرت سيِّدُنا بايزيد بسطامي قُدِّسَ سِرُّهُ السَّامِی فرمائي چه د جمې په يوه سخته يخه شپه کښې زما مور زما نه اوبه اوغوښتلې، ما کټورې [جام] راډك کړو او راغلم خو مور مې اوده شوې وه، ما راويښول مناسب او نه ګڼړل، د اوبو کټورې مې په لاس کښې نيولې په دې انتظار کښې اودريدم چه که دا رابيداره شي نو اوبه به ورله ورکړم. ولاړ ولاړ ډير وخت تير شو او د کټورې نه څه اوبه زما په ګوته را اوبهيدلې او کنګل [يعني واوره جوړې] شوې. بهرحال چه کله مې مور رابيداره شوه نو ما ورته

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښ چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه۔ (عبدالرزاق)

کټورې ورورړاندې کړو، د واورې په وجه د کټورې سره نښتې زما ګوته چه ښنګه‌راخلاصه شوه نو د هغې نه پوستکې ولاړ شو او وِينه ترې اوبهيدله، مور مې چه اوليده نو او ئې فرمائيل: ”دا څه اوشو“؟ ما ورته ټوله قِصه اوکړه نو هغوئ لاس پورته کړل او دُعا ئې اوکړه: اے الله عَزَّوَجَلَّ! زه د ده نه راضي يم ته هم د ده نه راضي اوسې. (نزهة المجالس ج ١ ص ٢٦١) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په خاطِر دِ زمونږه بخښنه اوشي.**

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## هره ورځ د جنّت درشل ښکل کړئ

د کومو خوش نصيبو مور او پلار چه ژوندي دي هغوئ له پکار دي چه هره ورځ کم نه کم يو ځل د هغوئ لاس او ښپې ضرور ښکلوئ، د مور او پلار د تعظيم غټه درجه ده. فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: اَلْجَنَّةُ تَحْتَ اَقْدَامِ الْاُمَّهَاتِ يعني جنّت د مور د ښپو نه لاندې دې. (مسند الشّهاب ج ١ ص ١٠٢ حديث ١١٩) يعني د دوئ سره ښيګړه کول جنّت ته د داخليدو سبب دې. د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري مکتبةُ المدينه چاپ شوې د **312** پاڼرو کتاب ”**بهارِشريعت**“ حصّه **16** صفحه **88** کښ دي: د مور ښپې ښکلولې هم شي، حديث کښ دي: ”چا چه د مور ښپه ښکل کړه نو داسې ده لکه د جنّت درشل (يعني دروازه) ئې چه ښکل کړه.“

(دُرِّمُختار ج ٩ ص ٦٠٦ دار المعرفة بيروت)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو هغه په خلقو کښې ډير کنجوس(شوم) دې. (ترغيب وترهيب)

## د مور په مخکښې د اواز اوچتولو په وجه ئې دوه غلامان ازاد کړل

**مور يا پلار** چه دلرې نه په راتلو اووينئ نو د هغوئ په ادب کښې ولاړ شئ، د خبرو کولو په وخت کښې د هغوئ په سترګو کښې سترګې مه اچوئ، چه کله هم را اوبلې نو سمدست لَبَّيك (يعني حاضر يم) اووائې، په ادب سره د "جناب"او د "تاسو"په الفاظو کښې ورسره خبرې کوئ، د هغوئ په آواز کله هم خپل آواز مه اوچتوئ. حضرت سَيِّدُنا عبدالله بن عون رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته د هغوئ مور غږ[يعنی آواز] اوکړو نو جواب ورکولو کښې د هغوئ آواز لږ شان اوچت شو، په دې وجه هغوئ دوه غلامان ازاد کړل. (حِلْيَةُ الْاَولياء ج ۳ ص ۴۵ رقم ۳۱۰۳ دارالكتب العلمية بيروت)

## بيا بيا د حجّ مبرور ثواب اوګټئ

**سُبحٰنَ الله**! زمونږه بزرګانِ دين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ المُبِين به د مور او پلار خومره قدردان وو او د هغوئ خومره **مدني سوچ** وو. مونږه دوه غلامان د کوم ځائ نه راپيدا کړو، افسوس! په داسې معامَلاتو کښې خو مونږه "دوه چرګې" نه بلکه **دوه اګې** هم د الله عَزَّوَجَلَّ په لار کښې د ورکولو جذبه نه لرو! **الله** عَزَّوَجَلَّ دِ مونږه ته د مور او پلار په اَهميَّت باندې د پوهيدلو توفيق را کړې.آمين! راشئ! بغير د څه خرچې نه بالکل هسې د ثواب خزانه حاصله کړئ. په ډيره همدردئ او په مينه محبّت د **مور او پلار** ديدار اوکړئ، د مور پلار طرف ته د رحمت په نظر د کتو به څه وائې! د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ رحمت نِشان دې: کله چه اولاد د مور

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

او پلار طرف ته د رحمت په نظر اوګوري نو الله تعالٰی د هغه د پاره د هر نظر په بدله کښې د **حجّ مبرور** (يعني د قبول شوي حج) ثواب ليکي. صحابه کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: که په ورځ کښې **سل ځله** نظر اوکړي! او ئې فرمائيل: نَعَمْ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَاَطْيَبُ يعني"آو، **الله** عَزَّوَجَلَّ د ټولو نه غټ دې او اَطيَب (يعني د ټولو نه زيات پاك) دې." (شُعَبُ الْاِيمان ج٦ ص ١٨٦ حديث٧٨٥٦) يقيناً **الله** عَزَّوَجَلَّ په هر څيز باندې قادِر دې، هغه چه څومره غواړي ورکولې شي، بالکل [يعني لږ هم] عاجِز او مجبوره نه دې لِهٰذا که څوك د خپل مور او پلار طرف ته هره ورځ 100 ځله هم د رحمت په نظر اوګوري نو هغه ته به د سلو **قبول** شوو **حجونو** ثواب ورکوي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د جنّت ملګرې

**حضرت** سيِّدُنا موسٰی **كليمُ الله** عَلٰی نَبِيِّنَا وَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام يو ځل د پروردِګار عَزَّوَجَلَّ په دربار کښې عرض اوکړو. يا ربِّ غَفَّار عَزَّوَجَلَّ ما ته زما **د جنّت ملګرې** اوښايه. الله عَزَّوَجَلَّ اوفرمائيل: فلانکي ښار ته لاړ شه، هلته فلانکې قصاب ستا د جنّت ملګرې دې. چنانچه سَيِّدُنا موسٰی **كليم الله** عَلٰی نَبِيِّنَا وَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام هلته د هغه قصاب خوا ته تشريف يوړلو، (د نه پيژندلو باوجود د مسافر او ميلمه کيدو په وجه) هغه د هغوئ عَلٰی نَبِيِّنَا وَعَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام دعوت [يعني ميلمستيا] اوکړه. کله چه ډوډئ ته کښيناستل نو هغه يوه غټه شان ټوکرئ خپلې خوا ته کيښودله، دننه به ئې دوه

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ماباندې درود پاك اوليکل ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي۔ (طبراني)

نمرئ [دوه قپونه] اچولې او يوه نمرئ به ئې پخپله خوړله. په دې کښې چا دروازه اوټکوله، قصاب پاځيدو او باهر ته لاړو. سَيِّدُنا موسٰی **کليمُ اللّٰه** عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام په هغه ټوکرئ کښې اوکتل نو په هغې کښې د زاړه عُمر سړې او ښځه وو. چه سَيِّدُنا موسٰی **کليمُ اللّٰه** عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام ئې ځنګه اوليدو نو د هغوئ په شونډو مُسکا راغله، هغوئ د دوئ عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام د رِسالت ګواهي ورکړه او په هم هغه وخت وفات شولو. قصاب چه بيرته راغې او په ټوکرئ کښې ئې خپل مور او پلار وفات شوي اوليدل نو په خبره پوهه شو او د دوئ لاس مبارك ئې ښکل کړل او عرض ئې اوکړو: تاسو ماته د الله عَزَّوَجَلَّ نبي حضرت سَيِّدُنا موسٰی **کليمُ اللّٰه** (عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام) ښکارئ. او ئې فرمائيل: تا ته ځنګه اندازه اوشوه؟ عرض ئې اوکړو: زما مور او پلار به هره ورځ په زارو زارو دُعا کوله چه يا **الله** عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د **حضرت موسٰی کليمُ اللّٰه** (عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام) د ديدار په نندارو کښې مرګ رانصيب کړه. د دوئ دواړو د داسې ناڅاپه وفات کيدو نه ما دا اندازه اولګوله چه هم تاسو به حضرت **سَيِّدُنا موسٰی کليمُ اللّٰه** (عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام) ئې. قصاب نور عرض اوکړو: چه زما مور به کله ډوډئ اوخوړله، نو خوشحاله به شوه او زما د پاره به ئې دا دُعا کوله: يا **الله** عَزَّوَجَلَّ! زما ځوئ په جنّت کښې د حضرت سيِّدُنا موسٰی **کليمُ اللّٰه** (عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام) ملګرې جوړ کړې. حضرت سَيِّدُنا موسٰی **کليمُ اللّٰه** عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام اوفرمائيل: مبارك شه ځکه چه **الله**

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليګي۔ (ابن عدي)

عَزَّوَجَلَّ ته په جنّت کښې زما ملګرې جوړ کړې ئې. (نُزهةُ الْمَجالس ج ۱ ص ۲٦٦ دارالكتب العلمية بيروت) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په خاطِر دِ زمونږه بخښنه اوشي.

## د مور او پلار نافرمانه ته په ژوندون سزا رسي

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** تاسو اوليده؟ د مور او پلار دُعا د اولاد په حق کښې څومره قبوله وي! که مور او پلار خفه شي او ښيرې اوکړي نو هغه هم قبليږي. ځکه مور او پلار هميشه خوشحاله ساتل پکار دي. د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عبرت نِشان دې: مور او پلار ستا دوزخ او جنّت دي. (اِبن ماجه ج ۴ ص ۱۸٦ حديث ۳٦٦۲) په يو بل مقام کښې ئې ارشاد فرمائيلې دې: د ټولو ګُناهونو سزا که الله عَزَّوَجَلَّ اوغواړي نو د قيامت د پاره ساتي خو د مور او پلار د نافرمانئ سزا په ژوندون ورکوي. (اَلْمُستَدرَک لِلْحاکِم ج ۵ ص ۲۱٦ حديث ۷۳۴۵ دارالمعرفة بيروت)

## مور له جواب نه ورکونکي ګونګې [چاړا] شو

**منقول دي:** يو کس ته د هغه مور غږ [آواز] اوکړو خو هغه غږ ورنه کړو، په دې د هغه مور هغه ته ښيرې اوکړې نو هغه **ګونګې** [چاړا] شو. (بِرُّالوالدَين لِلطَّرطُوشی ص ۷۹ مؤسسة الكتب الثقافية بيروت)

## مور او پلار که د ښيرو کولو نه ځان اوساتي نو ښه ده

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** تاسو اوليدله! د مور د غږ آواز نه ورکونکي په ژوندون **ګونګې** شو! په دې کښې يو خوا که د مور اوپلار

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله درود شريف اولوستل دهغه د دوه سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کنزالعمال)

د نافرمانو د پاره د **عِبرت مدني ګلونه** دي نو ورسره ورسره د مور او پلار د پاره هم د **سوچ او فکر مقام** دي، خاص طور هغه ميندېب[موريانې] ځوك چه په خبره خبره خپل اولاد ته داسې چه خانه دِ خرابه شه، تبوتې تبوتې شې، په خُله کښې دِ دانه را اوخيژوه، په برګي اخته شې وغيره ښيرې کوي، دوئ ته خپله ژبه په اختيار [يعني قابو] کښې ساتل پکار دي، چرې داسې او نه شي چه د قبليدو وخت وي، دُعا قبوله شي او په اولاد رښتيا ځه ''چل'' اوشي او دغسې مور ته بخپله هم خفګان پيښ شي! ځکه د اولاد د پاره صرف د خير دُعاګانې کول زيات مناسب دي.

## مور او پلار مو که د بل مُلك نه را اوبلي نو هم راځئ به

د **دعوتِ اسلامي** د سنّتونو د تربيّت په **مدني قافلو** کښې د عاشقانِ رسول سره د سنّتو نه ډك سفر بيشکه نيك بختي ده، د دعوتِ اسلامي د مدني قافلو او نورو مدني کارونو خوروولو د پاره، د مُلك نه باهر سفر کول، هلته دولس يا پينځه ويشت مياشتې اوسيدل هم ډيره د ثواب خبره ده، خو که د مور او پلار زړه ازاريږي، او هغوئ ته د دې په وجه سخت خفګان رسي نو بالکل سفر مه کوئ، **دعوتِ اسلامي** په ټوله دُنيا کښې د عاملو مقصد خپل صفت اوريدل نه دي، د **اللّٰه رضا** حاصلول دي. او د مور او پلار په زړه ازارولو کښې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رضا منزل هيڅ کله هم نه شي موندل کيدې. د دې نه علاوه په نورو ښارونو يا ملکونو کښې نوکرئ او کاروبار کونکي دِ هم صرف د مور او پلار په فرمان بردارئ

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره درود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامع صغير)

کښې سفر کوي او دا مَسئَله په ښه شان په ذهن کښې واچوئ څنګه چه د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اِدارې مکتبةُالمدينه په چاپ شوي د 312 صفحو کتاب "بهارِ شريعت" په شپاړسمه حصّه صفحه 202 کښې دي: "دا (يعني ځوئ) د مُلك نه باهر دې، مور او پلار ئې راغواړي نو دې به ضرور راځي، خط ليکل کافي نه دي. هم دغسې که مور او پلار ته د ده **د خدمت حاجت** وي نو را دِ شي او د هغوئ خدمت دِ کوي."

## پيۍ خښونکي ماشوم خبرې اوکړي!

چه مور او پلار درته کله غږ[يعني اواز] اوکړي نو د مجبورۍ نه بغير په جواب ورکولو کښې وخت مه اړوئ، ځيني خلق په دې کښې د سختۍ بې پرواهۍ نه کار اخلي او په جواب ورکولو کښې سُستي معاذالله عَزَّوَجَلَّ بده هم نه ګڼړي حالانکه که نفل مونځ کوئ او مور او پلار په دې نه وي خبر نو که هغوئ معمولي غوندې اواز هم اوکړي نو مونځ به ماتوئ او جواب به ورکوئ. (ماخوذ از بهار شريعت ج ۱ ص ٦٣٨) (وروستو بيا دا نفل مونځ راګرزول يعني بيا ادا کول واجِب دي) کوم خلق چه د مور او پلار په اواز کولو بې وجه هغوئ ته په توجُّه نه ورکولو د هغوئ زړه ازاروي هغوئ سخت ګنهګار او د اُور [يعني د دوزخ] د عذاب حقدار دي. مور آخِر مو ر وي، که ځيني وخت په خطا کښې هم د هغې د خُلې نه ښيرې اوځي او د قبوليت وخت وي نو اولاد په مشکل کښې پريوځي، په دې باره کښې په "**بخاري شريف**" کښې د يو اسرائيلي بزرګ عبرتناك

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ درود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو دَپاره پاكې ده. (ابو يعلٰی)

**حكايت** بيان كړې شوې دې، چنانچه د **دواړو جهانو** د **سلطان**، سرورِ ذيشان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عبرت نِشان دې: په بني اِسرائيلو كښې د **جُرَيج** نوم يو سړې وو، هغه مونځ كولو، د هغه مور راغله او هغه ته ئې آواز اوكړو خو هغه جواب ورنه كړو، او وئيل ئې چه مونځ اوكړم او كه دې له جوب وركړم. د هغه مور بيا راغله (چه جواب ئې ورنه كړو نو هغې ښيرې اوكړې)"**يا الله** عَزَّوَجَلَّ! دا له د هغې پورې مرګ مه وركوې تر څو چه دا د كومې بې حيا (يعني بدكارې) ښځې مخ او نه ويني." **جُرَيج** يوه ورځ په عبادت خانه كښې وو، يوې ښځې اووئيل: زه به دا دهوكه كووم، لِهٰذا هغه راغله او د **جُرَيج** سره ئې خبرې كول شروع كړل خو هغه (يعني**جُرَيج**) انكار اوكړلو، آخِر هغه يو شپونكي له ورغله او خپل ځان ئې هغه ته حواله كړو تر دې چه د هغې يو ماشوم اوشو او وئيل ئې چه دا د **جُرَيج** نه پيدا شوې دې، خلق په **جُرَيج** پسې راغلل، د هغه عبادت خانه ئې ورانه كړه او هغه ئې ترې باهر اوويستلو او هغه ته ئې بد رد اووئيل. **جُرَيج** اودس اوكړو او مونځ ئې اوكړو بيا د هغه ماشوم خوا ته راغلو او ورته ئې او وئيل: **ماشومه**! ستا پلار څوك دې؟ هغه جواب وركړو: فلانكي شپنكي. نو خلقو **جُرَيج** ته اووئيل: مونږ به ستا عبادت خانه د سرو زرو جوړه كړو. هغه اووئيل: نه، هم هغسې د خاورو [يعني خټو] ئې جوړه كړئ. (بُخارى ج ٢ ص١٣٩ حديث٢۴٨٢، مُسلم ص١٣٨٠ حديث ٢۵) **د الله** عَزَّوَجَلَّ

**دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په خاطِر دِ زمونږه بخښنه اوشي.**

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله درود پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طبراني)

## مور ئې په اوګو کړې په تودو کاڼو شپږ میله ..........

د **مور** او **پلار** حقونه ډېر زیات دي، د دوئ د ذمه واري نه وتل هډو کیدې نه شي، چنانچه یو صحابي رَضِیَ اللّٰہ تَعَالٰی عَنْهُ په بارګاهِ نبوي عَلٰی صاحِبِهَا الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام کښې عرض اوکړو: په یو لاره کښې داسې تاوده کاڼړې وو چه که د غوښې ټُکړه په هغو اچولې شوې وې نو کباب شوې به وې! ما خپله مور په شټ سوره کړې [په هغه لار] د شپږ میله پورې وړې ده، آیا زه د مور د حقونو نه ازاد شوې یم؟ سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ستا په پیدا کیدو کښې چه د درد څومره ځړیکې هغې ته رسیدلې وې شائِد دا په هغو کښې د یوې ځړیکې بدله شي. (اَلْمُعْجَم الصَّغِیر لِلطّبَرانی ج ۱ ص ۹۲ حدیث ۲۵٦) **د الله** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په خاطِر دِ زمونږه بخښنه اوشي.**

## که د ښځې په ځائ سرې ماشوم راوړې نو ........!

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** ربښتیا ده چه مور د خپل بچي د پاره سخت تکلیفونه تیر کړي وي، د ماشوم د پیدا کیدو (Delivery) په وخت چه کوم درد کیږي په هغه درد صرف مور پوهیدې شي، د سړي دپاره څومره آساني ده چه هغه بخپله اولاد نه راوړې. **زما آقا** اعلٰحضرت امامِ اهلِسُنّت مُجدِّدِ دین و مِلّت، مولانا شاه امام احمد رضا خان عَلَیْہِ رَحْمَۃُ الرَّحْمٰن **فتاوٰی رَضَوِیّه** جلد 27 صفحه 101 کښې فرمائي: د سړي تعلق صرف د خوند سره دې او زَنانه د سوونو مصیبتونو سره مخامخ وي، نهه میاشتې

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مسلم)

ئې په ګېډه کښې ساتي، چه ګرزيدل، پاڅيدل، کښيناستل ئې مشکل وي، بيا د پيدا کيدو په وخت کښې خو ئې هره څړيکه سم مرګ وي، بيا د قِسما قِسم دردونو په وجه د نِفاس والا (يعنې د ماشوم د پيدا کيدو نه پس راتلونکي د وِينې په تکليف کښې د اَخته ښځې) خوب اوتښتي. ځکه (اللّٰه تبارَکَ وَ تَعالٰی) فرمائي:

حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ كُرْهًا وَّ وَضَعَتْهُ كُرْهًا ؕ وَ حَمْلُهٗ وَ فِصٰلُهٗ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا ؕ

**مفهوم ترجمهٔ كنزُ الاِيمان:د هغه مور هغه په خيټه کښې اوساتلو په تکليف سره او رائې وړو هغه په تکليف سره او هغه اوچت ګرځول او د هغه د پئيو نه پريکول په ديرش مياشتو کښې دي.**

نو د هر ماشوم په پيدائِش کښې زنانه ته کم نه کم درې کاله د مشقّت سره د جيل سزا ده. د سړي د خيټې نه که صرف يوه پيره "**د مرېٓ بچې**" هم پيدا شي نو د ټول عمر د پاره به ئې غوږونه نيولي وي (فتاوٰی رضويه ج ۲۷ ص ۱۰۱)

## ښځه د همدردۍ حقداره وي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د اعلٰحضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د مبارکې فتوې نه چه څنګه د مور حيثيت معلوم شو هم دغسې ترې د ښځې **اَهَمِّيَّت** هم ښکاره شو. خاوند لره پکار دي چه خصوصاً د "اُمِّيد" يعنې د حمل په ورځو کښې په خپله ښځه باندې خصوصي شفقت [يعنې مهرباني] کوي، په کار کښې دِ د هغې سره ښه کومك [مدد] کوي، د خوارئ کار دِ ترې نه اَخلي، په رُعب اچولو، رټلو يا په هيڅ شان دِ هم د

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبراني)

هغې د خفګان (Tention) څه سبب نه جوړوي. غرض دا چه څومره کیدې شي هغې ته دِ آرام [دمه] ورکوي. چه کله د خپل مدني ماشوم سره مینه کوي نو ورسره ورسره دِ [په دې وجه] د هغه په مور باندې هم د رحم نظر اچوي، چه د دې مندو ترړو او ټوپونو وهونکي، زړه خوشحالونکي ''کهلونې'' [د لوبو د څیز] ما ته په رارسیدو کښې دې غریبې څومره تکلیفونه اوچت کړي دي.

## د پیئو ورکولو د مَسئَلې وضاحت

د **اعلٰحضرت** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په مبارکه فتویٰ کښې چه په آیتِ کریمه کښې کوم ارشاد اوشو چه ''او د هغه د پئیو نه پریکول په دیرش میاشتو کښې دي.'' د دې تعلق د پیئو [ورکولو په وجه] د خپلوئ او د حُرمتِ نکاح سره دې. د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارې **مَکتبةُ المدینه** چاپ شوي د 1182 صفحو په کتاب ''**بهارِ شریعت**'' جلد 2 صفحه 36 کښې دي: ماشوم ته دِ (د هجري سن په حساب) د دوو کالو پورې پيۍ ورکړې شي، د دې نه زیات اجازت نشته، که پيۍ خښونکي هلك وي او که جینۍ. او دا په څینې عوام کښې چه مشهوره ده چه جینۍ ته د دوو کالو پورې او هلك ته د دوه نیمو کالو پورې پيۍ ورکولې شي دا صحیح نه ده. دا حکم د پئیو ورکولو دې او د نکاح حرامیدو د پاره د دوه نیمو کالو وخت دې یعنې **د دوه کالو نه پس اګرچه پيۍ ورکول حرام دي** خو (د هجري

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

سن په حساب سره) که د دوه نيم کالو په عمر کښې دننه پئ ورکړي نو حُرمتِ نِکاح به ثابِت شي او د هغې نه وروستو ئې که اوخښل، نو حرمتِ نکاح نشته اګرچه ورکول جائِز نه دي.

## د ظالم مور او پلار خبره منل هم ضروري دي

د حضرت سيِّدُنا عبدُالله بن عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دې چه د دوارو جهانو د سلطان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عبرت نه ډك فرمان دې: "چا چه په داسې حال کښې سحر کړو چه د خپل مور او پلار فرمانبرداره دې، د هغه د پاره د سحر نه د جنّت دوه دروازې بيرته [يعني خلاصې] شي او که په مور او پلار کښې يو وي نو يوه دروازه بيرته کيږي. او چا چه په دې حال کښې ماښام کړو چه د مور او پلار په باره کښې د **الله** عَزَّوَجَلَّ نافرماني کوي د هغه د پاره د سحر نه د دوزخ دوه دروازې بيرته [يعني خلاصې] شي او (که په مور او پلار کښې) يو وي نو يوه دروازه بيرته کيږي. يو کس عرض اوکړو: اګر که مور او پلار په هغه ظلم اوکړي. اوئې فرمائيل: اګر که ظلم اوکړي، اګر که ظلم اوکړي، اګر که ظلم اوکړي." (شُعَبُ الْاِيمان ج ٦ ص ٢٠٦ حديث ٧٩١٦)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** رښتيا ده چه هغه کس ډير خوش نصيبه دې څوك چه مور او پلار خوشحاله ساتي، کوم بدنصيبه چه مور او پلار خفه کوي د هغه د پاره بَربادي ده. اللّٰہ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په پاره 15 **سُوره بني اِسرائِيل** آيت 23 نه 25 پورې ارشاد فرمائي:

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاويږي۔ (مجمع الزوائد)

وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ؕ اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَآ اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا ﴿۲۳﴾ وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِيْ صَغِيْرًا ﴿۲۴﴾ ؕ رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا فِيْ نُفُوْسِكُمْ ؕ

مفهوم ترجمه کنزُالایمان: او د مور او پلار سره ښه سلوك کوه، که ستا په مخکښ په هغوئ کښ يو يا دواړه بُوډا والي ته اورسي نو هغوئ ته اُف مه وايه او هغوئ مه رټه او هغوئ سره په تعظيم خبره کوه. او د هغوئ د پاره د عاجزئ لاس [مټ] خور کړه او عرض اوکړه چه اے زما ربه! ته په هغه دواړو رحم اوکړې ځنګه چه هغه دواړو زه په ماشوم والي کښ ساتلي ووم. ستاسو رب ښه خبر دې په هغې، څه چه ستاسو په زړونو کښ دي.

## په وړوکوالي کښ مور هم د اولاد "ګندګي" برداشت کوي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** پاس ليکلي شوو آياتِ کريمه کښ **الله** عَزَّوَجَلَّ د مور او پلار سره د ښه سلوك حکم کړې دې او خاص طور د هغوئ په بوډاوالي کښ ئې د زيات خدمت تاکيد کړې دې. يقيناً د مور او پلار بوډاوالي بنده په امتِحان کښ اَچوي ، په ډير زيات بوډاوالي کښ ځيني وخت په بستره باندې د غټو او وړو بَولو (يعني ګندګئ) ترکيب کيږي چه د هغې په وجه عام طور اولاد تنګ شي، **خو ياد ساتئ!** په داسې حالاتو کښ هم د مور او پلار خدمت کول ضروري دي، په وړوکوالي کښ آخِر مور خو هم د ماشوم ګندګي برداشت کوي. د بوډا

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ماباندې درود پاك اوليكل ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طبراني)

والي او بيمارو په وجه كه مور او پلار له هر څومره غُصَّه وَرځِي، كه د هغوئ فكر كار پريږدي، كه شور شغرب كوي، كه بې وجه جنګ كوي، كه هر څومره جګړې كوي، بيشكه چه سخت هم پريشانه كړي خو صبر، صبرِ او صرف صبر كول پكار دي او د هغوئ تعظيم كول پكار دي. د هغوئ سره بې تميزي كول، هغوئ رټل وغيره خو لرې خبره ده د هغوئ په مخكښې ''اُف'' هم مه كوئ، ګنې وار د لاس نه وَتلې شي او د دواړو جهانونو تباهي هم مقدَّر جوړيدې شي ځكه چه د مور او پلار زړه ازاروونكي په دې دُنيا كښې هم خوار او ذليله وي او د آخِرت د عذاب هم حقدار وي.

دل دُكھانا چھوڑ دیں ماں باپ کا
ورنہ اس میں ہے خسارہ آپ کا (وسائلِ بخشش ص ۳۷۷)

زړونه مه ازاروئ د مور او پلار خپل
ګنې او به كړئ نقصان تاسو بيكار خپل

## د خر پشان مړي

حضرت سَيِّدُنا عَوّام بن حَوشَب عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الرَّب (كوم چه تَبعِ تابِعِي بزرګ تير شوې دې او هغوئ په 148ھ كښې وفات شوې وو) فرمائي: يو ځل زه د يوې مَحلّې [يعني د كورونو] په خوا تير شوم، د هغې ډډې ته يوه اَديره [مُقبره] وه، پس د مازديګره يو قبر اوچاودلو او د هغې نه يو داسې سړې را اووتلو چه د هغه سر د خره پشان او باقي جسم د انسان پشان وو، هغه

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو هغه په خلقو کښې ډير کنجوس (شوم) دې. (ترغيب وترهيب)

درې ځله د خره پشان اوهنړيدو، بيا قبر ته لاړ او قبر بند شو. يوه بوډئ ناسته وه مالوچ ئې وريشل، يوې زنانه ما ته اووئيل دا بوډئ وِينئ؟ ما وئيل: د دې څه معامَله ده؟ وئيل ئې: دا د دې قبر والا مور ده، دا **شرابي** وو، چه کله به ماښام کور ته راتلو نو، مور به ورته نصيحت کولو چه اے ځويه! د **الله** عَزَّوَجَلَّ نه اويريږه، آخِر تر څو پورې به دا ناپاکه [شراب] څښې! ده به ورله جواب ورکولو: ته هسې د **خره** پشان هنړيږې. دا سړې د مازديګر نه وروستو مړ شو، چه د کله نه مړ شوې دې [د هغې نه پس] هره ورځ د مازديګر نه وروستو د ده قبر شليږي او دغسې درې ځله د **خره** پشان هنړيږي بيا قبر ته ننوزي او قبر بند شي.

(اَلتَّرغِيب وَالتَّرهيب للمنذری ج ۲ ص۲۲۶ حديث ۱۷)

## د مور او پلار د نافرمانه يو عبادت هم قبول نه دې

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د **الله** توّاب عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې مونږه توبه کوو او د هغه نه د خير سوال کوو. آه! د مور او پلار نافرماني د خومره رُسوائي او د دردناك عذاب سبب دې. حديثِ پاك کښې دي: عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ "يعني د قبر عذاب حق دې." (نَسائی ص۲۲۵ حديث ۱۳۰۵) کله کله په دنيا کښې هم د دې نظاره ښودلې کيږي چه خلق ترې عبرت واخلي. د خپل **پلار** د نافرمانه په باره کښې د شوي سوال په جواب کښې زما آقا اعلٰحضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مولانا شاه **اِمام احمد رضا خان** عَلَيْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن فرمائي: د پلار نافرماني د **الله** قهّار و جبّار نافرماني ده او پلار خفه کول

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

**الله** قهّار و جَبّار خفه کول دي، سرېي که **مور** او **پلار** خوشحاله کړې نو هغوئ د هغه **جنّت** دي او که خفه ئې کړې نو هم هغوئ د هغه **دوزخ** دي. **تر څو چه پلار راضي نه کړي تر هغې د هغه يو فرض، يو نفل، هيڅ نيك عمل د سره نه قبليږي، د آخرت د عذاب نه علاوه پرې په دُنيا کښې په ژوندون سخته بلا** (يعني سخت مُصيبت) **نازليږي، د ځنکدن په وخت کښې مَعَاذَالله** عَزَّوَجَلَّ **د کلمه نه نصيب کيدو يره ده.** (فتاوٰی رضويه ج ۲۴ ص ۳۸۴ ۔ ۳۸۵)

که مور او پلار کافر هم وي نو په شريعت کښې دننه اوسيدو سره د هغوئ سره ښه سلوك کول ضروري دي. د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري **مکتبةُالمدينه** چاپ شوي د **1182** صفحو کتاب "**بهارِ شريعت**" جلد **2** صفحه **452** کښې **صدرُالشّرِيعه، بدرُ الطّريقه** حضرت مولانا مفتي مُحمّد امجد علي اعظمي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْقَوِى د "عالمګيري" په حواله سره نقل کوي: "که د کوم يو مسلمان مور يا پلار کافر وي او وائي چه ما بُت خانې ته اورسوه نو نه دِ ئې بوځي او که د هغه ځائ نه راتلل غواړي نو راوړې ئې شي." (فتاوٰی عالمگیری ج ۲ ص ۳۵۰ دارالفکر بیروت)

## خپل مور او پلار په خلقو کنزل

کوم خلق چه نورو ته د مور د کنزلو کولو عادت لري هغه ډير غلط خلق دي، د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري **مکتبةُالمدينه** چاپ شوي د **312** صفحو کتاب "**بهارِ شريعت**" حصّه **16** صفحه **195** باندې **صدرُالشّرِيعه، بدرُالطّريقه** حضرت مولانا مفتي مُحمّد امجد علي اعظمي

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْقَوِی نقل کوي: د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ حقیقت نِشان دي: دا خبره په کبیره ګناهونو کښې ده چه انسان خپل مور او پلار ته کنزلې اوکړي. خلقو عرض اوکړو: یا رَسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم آیا څوك خپل مور او پلار ته هم کنزل کوي؟ او ئې فرمائیل: "آو، د دې صورت دا دې چه دا د بل پلار ته کنزل کوي، هغه د ده پلار ته کنزلې کوي، او دا د بل مور ته کنزلې کوي، هغه د ده مور ته کنزلې کوي. (مسلم شریف ص۶۰ حدیث۱۴۶) دې حدیث پاك نقل کولو نه پس حضرت عَلّامه مولانا مُفتي مُحمّد امجد علي اعظمي عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْقَوِی فرمائي: صحابه کرام (عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان) چه هغوئ د جاهلیّت زمانه لیدلې وه، هغوئ په دې خبره پوهه نه شو چه خپل مور او پلار ته به څوك ولې کنزل کوي یعني (آیا څوك خپل مور و پلار ته هم ګنې کنزلې کولې شي) په دې خبره هغوئ بالکل نه پوهیدل. حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: مطلب دا دې چه د بل په خُله خپل مور او پلار کنزي او اوس هغه زمانه راغله چه خلق پخپله (خُله) خپل مور او پلار ته کنزلې کوي او هیڅ لحاظ نه کوي. (بهارِ شریعت)

## د اور په ښاخونو زوړند خلق

حضرت سیِّدُنا امام احمد بن حَجَر مَکّي شافِعي عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْقَوِی نقل کوي: د سرورِ کائِنات شاهِ موجودات صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عِبرت نِشان دي: د معراج په شپه ما څه خلق اولیدل چه هغه د اور په ښاخونو زوړند وو نو ما تپوس اوکړو: اے جِبرئیل! دا خلق څوك دي؟ عرض ئې اوکړو:

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبراني)

اَلَّذِیۡنَ یَشۡتُمُوۡنَ اٰبَاءَهُمۡ وَاُمَّهَاتِهِمۡ فِی الدُّنۡیَا یعني دا هغه خلق دي چه په دُنیا کښې به ئې خپلو پلارانو او موريانو[میندو] ته بد رد وئیل.
(اَلزَّواجِرُ عَنِ اقۡتِرافِ الۡکَبائِر ج۲ ص۱۳۹ دار المعرفة بیروت)

## د باران د څاڅکو همره سکروټې

**منقول دي:** چا چه خپل مور او پلار ته کنزل اوکړل د هغه په قبر کښې به د اور دومره سکروټې راکوزیږي څومره چه (د باران) څاڅکي د آسمان نه زمکې ته راځي. (اَیضًا ص۱۴۰)

## قبر پوښتئ ماتوي

**منقول دي:** کله چه د مور او پلار نافرمانه خخ کړې شي نو قبر به هغه زور کوي تر دې چه د هغه پوښتئ (ماتې شي او) په یو بله کښې ورشي. (اَیضًا)

## جنّت ته به نه ځي

**حضرت سَیِّدُنا عبدُالله بن عمر** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُمَا نه روایت دې، د **رسولِ ذي شان، نُورِ رَحمٰن** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عبرت نِشان دې: درې کسان به جنّت ته نه ځي (1) مور او پلار ازارونکې او (2) دَیُّوث او (3) د سړو انداز جوړونکې زنانه. (اَلۡمُستَدرَک ج۱ ص۲۵۲ حدیث ۲۵۲)

## که مور او پلار په خپل مینځ کښې جګړه کوي نو اولاد څه اوکړي؟

زما آقا **اعلٰی حضرت**، امامِ اَهلِسُنّت، مولانا شاه اِمام احمد رضا خان عَلَیۡهِ رَحۡمَةُ الرَّحۡمٰن فرمائي: که د مور او پلار په خپل مینځ کښې څه جګړه

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شریف لولي زه به دَ قیامت په ورځ دَ هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

وي نو نه دِ د مور ملګرتیا کوي او نه د پلار، کله دِ هم داسې نه کوي چه د مور د مینې په وجه په پلار سختي اوکړي. **د پلار زړه ازارول یا هغه ته مخامخ جواب ورکول یا په بې ادبۍ سره هغه ته بد بد کتل دا ټولې خبرې حرامې دي او د الله** عَزَّوَجَلَّ **نافرماني ده.** د اولاد د پاره په مور او پلار کښې د کوم یو داسې ملګرتیا کول بالکل جائِز نه دي، هغه دواړه د ده جنّت او دوزخ دي، چه کوم یو له تکلیف ورکوي د دوزخ حقدار به جوړیږي. وَالْعِیاذُبِاللّٰه، (یعنې د الله عَزَّوَجَلَّ پناه) په معصیَّتِ خالِق (یعني د الله عَزَّوَجَلَّ په نافرمانۍ) کښې د هیڅ چا اطاعت (یعني خبره منل) نشته. مَثَلاً مور دا غواړي چه څوئ خپل پلار ته په څه طریقه تکلیف اورسوي او که څوئ ئې نه مني یعني په پلار باندې سختي کولو ته نه تیاریږي نو هغه [یعني مور] خفه کیږي نو مور دِ خفه پریږدي او بالکل دِ په دې باره کښې د مور خبره نه مني، هم دغسې دِ د مور په معامله کښې د پلار نه مني. عُلَمائے کرام داسې تقسیم کړې دي چه په خِدمت کښې دِ مور غوره کړي او تعظیم [عِزّت] د پلار زیات دې ځکه چه هغه د ده د مور هم حاکِم او آقا [یعني حکم کونکې، افسر] دې. (ماخوذاز: فتاوٰی رضویه ج۲۴ص۳۹۰)

## که مور او پلار د ګیرې خرئیلو حکم اوکړي نو نه دِ ئې مني

معلومه شوه چه که مور او پلار د کومې ناجائِزه خبرې حکم اوکړي نو د هغوئ خبره دِ نه مني، که په ناجائِزه خبرو کښې د هغوئ منل کوي نو ګنهګار به وي مَثَلًا که مور او پلار د دروغو وئیلو حکم اوکړي

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاویږي۔ (مجمع الزوائد)

یا د ګِیرې خرئیلو یا د یو موټې نه د کمولو اووائي نو د هغوئ دا خبرې دِ هیڅ کله هم نه مني اګر که هغوئ خومره هم خفه شي، په تاسو به د نافرمانه حکم نه لګي، خو که دا خبرې ئې اومنئ نو د رب عَزَّوَجَلَّ نافرمانه به ضرور جوړ شئ. هم دغسې که د مور او پلار په مینځ کښې طلاق اوشي او اوس درته مور په ژړا ژړا وائي چه پیځ مې نه دي دربخښلي او حکم اوکړي چه د پلار سره به ملاقات نه کوې دا حکم دِ نه مني، د پلار ملاقات به هم کوي او خدمت به ئې هم کوي ځکه چه بیشکه د هغوئ په مینځ کښې جُدائي شوې ده خو د اولاد تعلق هم هغسې قائِم دې، په اولاد باندې د دواړو حقونه هم هغسې موجود دي.

## که مور او پلار ترې خفه وفات شوي وي نو څه اوکړي؟

د چا نه چه مور او پلار خفه وفات شوي وي، هغه دِ د هغوئ د پاره ډیرې زیاتې د بخښنې دُعا ګانې غواړي ځکه چه د مړي د پاره د ټولو نه غټه تُحفه د بخښنې دُعا ده او هغوئ ته دِ ډیر ډیر **ایصالِ ثواب** کوي. چه د اولاد د طرف نه مسلسل د نیکو تُحفې ور رسي نو اُمّید دې چه وفات شوي مور او پلار به راضي شي. د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري **مکتبةُ المدینه** چاپ شوي د **312** صفحو په کتاب "**بهارِ شریعت**" حصه **16** صفحه **197** کښې دي: **رسولُ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: "که د چا مور او پلار دواړه یا یو وفات شو او ده د هغوئ نافرماني کوله، اوس د هغوئ د پاره همیشه اِستِغفار کوي [یعنې د بخښنې دُعا غواړي]، تر دې

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه۔ (عبدالرزاق)

چه الله عَزَّوَجَلَّ هغه نیکوکار اولیکي." (شُعَبُ الْاِیمان ج ۶ ص۲۰۲ حدیث ۷۹۰۲) که کیدې شي نو د **مکتبةُ المدینه** چاپ شوي رسالې وغیره د خپل وَس مناسب اخلئ او د ایصالِ ثواب په نیّت ئې تقسیموئ، که د ایصال ثواب د پاره د مور او پلار وغیره نومونه او خپله پته په رساله یا کتاب باندې چاپ کول غواړئ نو**مکتبةُ المدینه** ته رُجوع اوکړئ.

## د مور او پلار قرض ادا کړئ

د سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ خوشبودار دې: د مور او پلار د وفات نه پس دِ د هغوئ **قسم** پوره کړي او د هغوئ **قرض** دِ ادا کړي او د بل چا مور او پلار ته دِ **بد** نه وائي چه څوك د ده مور او پلار ته بد او نه وائي، نو هغه به د مور او پلار سره **بنیګړه** کونکې لیکلې شي اګر که (د هغوئ په ژوند کښې) "نافرمانه" وو. او څوك چه د هغوئ قسم پوره نه کړي او د هغوئ قرض ادا نه کړي او د بل چا مور او پلار ته بد وائي او هغه [په جواب کښې] د ده مور او پلار ته بد وائي نو هغه به **نافرمانه** لیکلې شي اګر چه د هغوئ په ژوند کښې "**بنیګړه کونکې**" وو.

(اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط لِلطَّبَرانی ج ۴ ص ۲۳۲ حدیث ۵۸۱۹ دار الکتب العلمیة بیروت)

## د جُمعې په ورځ د مور او پلار په قبر د حاضرئ ثواب

د خاتَمُ الْمُرسَلِین، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ رحمت نِشان دې: څوك چه د خپل مور او پلار دواړو یا د یو په قبر د هرې جُمعې په ورځ د زیارت د پاره حاضریږي الله عَزَّوَجَلَّ به د هغه ګناهونه اوبخښي او د مور

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو هغه په خلقو کښې ډير کنجوس(شوم) دې. (ترغيب وترهيب)

او پلار سره به ښيګړه کونکې اوليکلې شي. (نوادر الاصول للحکيم الترمذی ص۹۷ حديث ۱۳۰ دمشق)

## مدني چينل به سپرلي راوړي کور په کور

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د مور او پلار د نافرمانۍ نه ځان بچ کولو د پاره او د هغوئ د فرمانبردارئ جذبه حاصلولو د پاره، په خپل زړه کښې د عشق رَسول شمع بلولو د پاره او سينه د محبّتِ رسول مدينه جوړولو د پاره د دعوتِ اسلامي د مدني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې مدني ماحول په برکت سره به د سُنّتو په لاره د تللو، د نيکئ کولو، د ګناهونو نه د بچ کيدو د پاره او د ايمان د حفاظت د پاره د سوچ او فکر کولو سعادت درنصيب شي. د سنّتو د تربيّت د پاره هره مياشت کم نه کم د درې ورځو د پاره په **مدني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول** سره د سنّتو نه ډك سفر خپل معمول جوړ کړئ، د مدني مرکز عنايت کړې شوې د نيك جوړيدو د نُسخې "مدني اِنعامات" مطابق د خپل ژوند شپې او ورځې تيروئ او هره ورځ کم نه کم 12 مِنټه فِکرِمدينه کوئ او په هغې کښې د مدني انعاماتو رساله ډکوئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ په دواړو جهانو کښې به هم بيړه پورې اوځي. د دعوتِ اسلامي د مدني ماحول په برکتونو ځان پوهه کولو د پاره يو **مدني سپرلې** اوګورئ، د ميرپور نمبر 11 (ډهاکه بنګله ديش) د دعوتِ اسلامي د يو مُبَلِّغ د بيان خلاصه ده چه زه يو پيره په لار روان ووم او يو صاحب سره مې ملاقات اوشو، زه ئې چه

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شریف لولي زه به دَ قیامت په ورځ دَ هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

څنګه اولیدم نو هغه اووئیل: ته خبر ئې چه زه اوس سره د خپلې ښځې او بچو چرته روان یم؟ بیا ئې پخپله جواب راکړو او وئیل ئې چه: اصل کښې خبره دا ده چه زما مور او پلار زما نه او زه **د خپل مور او پلار نه خفه ووم**. د دعوتِ اسلامي په **مدني چینل** باندې د کیدونکې بیان **"ماں باپ کے حقوق"** د کتلو په برکت سره ما ته احساس اوشو چه ما د مور او پلار د نافرمانئ کولو ډیره غټه ګناه کړې ده، چنانچه د معافي غوښتلو د پاره سره د ښځې او بچو، د مور او پلار په خدمت کښې د حاضریدو د پاره روان یم، **اللہ** تعالٰی دِ دعوتِ اسلامي او مدني چینل له ډیره ترقي ورکړي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

راہِ سنّت پر چلا کر سب کو جنّت کی طرف
لے چلے بس اِک یِہی ہے مَدَنی چینل کا ہَدَف

د مدني چینل مقصد دادې چه هر یو کس د سُنّت په لاره روان شي او جنّت ته لاړ شي.

یا خدا ہے اِلتجا عطّار کی
سنّتیں اپنائیں سب سرکار کی

یا اللہ! ستا نه دعا ده د عطّار
هر یوکس چه شي روان په سنّتو د سرکار

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکل ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي۔ (طبراني)

## د مور په ښيرو ئې ښپه کټ شوه

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د دې مدني سپرلي نه د "مدني چينل" فائِدې معلومې شوې. په دې "مدني سپرلي" کښې "**د مور او پلار د حقونو**" ذکر دې، بيشکه د مورا و پلار حقونه پوره کول ډير زيات مشکل دي، د دې د پاره ټول عمر کوشش کول پکار وي او د مور او پلار د خفګان نه هميشه ځان ساتل پکار دي. ځوك چه مورا و پلار تنګوي د هغوئ په دې دنيا کښې هم ډير يرونکې انجام کيږي چنانچه حضرت علّامه کمالُ الدِّين دَميري عَلَيۡهِ رَحۡمَةُ اللّٰهِ الۡقَوِی نقل کوي: "**زَمَخۡشَرى**" (چه د مُعتزِلي فِرقې يو مشهور عالم تير شوې دې د هغه) يوه **ښپه کټ شوې** وه، د خلقو په تپوس کولو هغه دا خبره ښکاره کړه چه دا زما **د مور د ښيرو** نتيجه ده، قصه دا ده چه ما په وړوکوالي کښې يوه مرغۍ اونيوله او د هغې په ښپه کښې مې مزې واچولو، اتفاقًا هغه زما د لاس نه خلاصه شوه او د يو ديوال په چاو کښې ننوتله، خو مزې باهر رازوړند شوې وو، ما مزې اونيولو او په زوره مې راښکلو نو مرغۍ په پړقيدو پړقيدوباهر را اووتله، خو د غريبې **ښپه** په مزې کټ شوې وه، **زما مور** چه دا زړه دردولې نظاره اوليدله نو سخته خفه شوه او د هغې د خلې نه زما د پاره دا **ښيره** اووتله چه: "څنګه تا د دې بې زبانه ښپه کټ کړه، **الله** تعالٰى دِ ستا ښپه هم [دغسې] کټ کړي." خبره تيره شوه، څه موده پس ما د علم حاصلولو د پاره د "بُخارا" سفر اختيار کړو، په لاره باندې د سورلۍ

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شریف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي۔ (ابن عدي)

نه اوغورزيدم، ښپه مې ډېره زياته زخمي شوه، ښخارا ته چه اورسيدم نو ډېر علاج مې اوکړو خو تڪليف ختم نه شو او آخر دا چه ښپه مې ڪټ ڪړې شوه. (او دغسې د مور ښيره پوره شوه)

(حياة الحيوان الكبرٰى ج ۲ ص ۱۶۳)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مور او پلار ته په ښپو پريوزئ او معافي ترې اوغواړئ

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** كه ستاسو نه مور او پلار يا په دواړو كښې كوم يو خفه وي نو د فوراً نه هم **مخكښې** ورته لاسونه جوړه كړئ ، په ښپو ورته پريوځئ او په ژړا ژړا ترې ځان معاف كړئ او د تلافئ تركيب اوكړئ [يعني كوم حق هم چه وهلې وي هغه ور پوره كړئ]، د هغوئ جائزِ مطالِبات پوره كړئ ځكه چه په دې كښې هم د دواړو جهانو ښيګړه ده. د مور او پلار د حقونو په باره كښې د نورو معلوماتو حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اِدارې **مكتبةُ المدينه** نه جاري شوې دوه وي. سي. ډياني (1) "**ماں باپ کے حقوق**" او (2) د رمضانُ المبارك (1430ھ) په اعتكاف كښې شوې د "مدني مُذاكرې" وي. سي. ډي "**والدین کے نافرمانوں کا انجام**" اوكورئ.

دل دُکھانا چھوڑ دیں ماں باپ کا ورنہ ہے اِس میں خَسارہ آپ کا
زړونه مه ازاروئ د مور او پلار خپل
ګنې او به كړئ نقصان تاسو بيكار خپل
کینۂ مسلم سے سینہ پاک کر اِتباعِ صاحِبِ لَو لاک کر

www.dawateislami.net

اوباسه د زړه نه د مُسلِم کِينه
ته شه تابعدار د شهنشاهِ مدينه
یا خدا ہے اِلتجا عطّار کی   سُنّتیں اپنائیں سب سرکار کی
یا الله ستا نه دُعا ده د عطّار
هر يو کس چه شي روان په سنّتو د سرکار

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!   صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سنتّو فضيلت او يوڅو "سنّتونه او آداب" د بيانولو ثواب حاصلوم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوّت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "چا چه زما د سنّت سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چه زما سره محبّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي."

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!   صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## "د مديني د لار مسافر" د15 حروفو په نِسبت د ګرزيدو 15 سنّتونه او ادبونه

(1) پاره 15 سوره بني اسرائِيل آيت 37 کښې د ربّ العِباد عَزَّوَجَلَّ ارشاد دي:

وَلَا تَمْشِ فِی الْاَرْضِ مَرَحًا ۚ اِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْاَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُوْلًا ﴿۳۷﴾

مفهوم ترجمه کنزالايمان: او په زمکه کښې غره [يعني په ناز سره] مه ګرځه، بيشکه هيڅ کله به زمکه اونشې څيرلې او هيڅ کله به په اوچت والي کښې غرونو ته اونه رسې.

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره درود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامع صغير)

(2) د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارې مکتبة المدينه چاپ کړې شوې د **312** صفحو کتاب ”بهارِشريعت“ حصّه **16** صفحه **78** کښې فرمانِ مصطفي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: يو سړي دوه څادرې اچولې په ناز [ غره] روان وو او په تکبر کښې وو، هغه په زمکه کښې خخ کړې شو، هغه به تر قيامته پورې هم داسې خخيږي. (صحيح مسلم ص ١١٥٦ حديث ٢٠٨٨) (3) سرورِ کائِنات شَهَنشاهِ موجودات صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به ځيني وخت په روانه کښې د خپل يو صحابي لاس په خپل لاس مبارک کښې اونيولو. (المعجم الكبير ج ٧ ص ٢٧٧) (4) رسولِ اکرم، نورِمجسَّم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به چه روان وو نومخښې طرف ته به لږ شان ټيټ شوې تلّلو، لکه د لوړې نه چه راکوزيږي. (الشَّمائل المحمّدية للترمِذي ص ٨٧ رقم ١١٨) (5) په غاړه کښې د سرو زرو يا د هر قسم اوسپنې زنځيراچولې، خلقو ته دَښودلو د پاره خلاص کړې ګريوان په ناز هيڅ کله مه ګرځئ، ځکه چه دا د کم عقلو، کَبَرجَنواوفاسِقانو تګ دې. په غاړه کښې د سرو زرو چين يابريسليټ (BRACELET) اچول د نارينه د پاره حرام او د نورو دهاتونو (يعنې د هر قسم اوسپنې) هم ناجائِز دې. (6) که څه وجه نه وي نو د لارې په غاړه غاړه په درميانه رفتارسره ځئ، نه دومره تيز چه خلق ستاسو په تماشه شي چه داچرته په منډه منډه روان دې! اونه دومره په قلاره چه خلق تاسو بيمار اوګڼرې. د اَمرَد (يعنې د ښکلي بې ګيرې هلک) لاس دِ نه نيسي، د شهوت سره د هر يو اسلامي وررور لاس نيول يا مصافحه

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ درود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (ابو يعلٰی)

کول (لاس ورکول) ياغاړه ورکول حرام او جهنّم ته بوتلونکې کار دې. (7) په لاره تلَلو کښې پريشان نظري (يعني بې حاجته اخوا ديخوا کتل) سنّت نه دي، نظرښکته ساتئ او په وقار [عزّت] سره ځئ. حضرت سَيِّدُنا حَسَّان بن ابي سِنان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الْحَنَّان د اختر دمانځه د پاره لاړو، چه واپس ئې کور ته تشريف راوړو نو ښځې (بي بي صاحبه) ورته اووئيل: نن دِ څومره ښځې اوليدلې؟ هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه خاموش وو، چه کله هغې ډير ضد اوکړو نو وې فرمائيل:"دکورنه د وتلونه واخله واپس ستا خوا ته د راتلو پورې ما (د خپلو ښپو) ګوتو طرف ته کتل." (کتابُ الورَع مع موسُوعَه اِمام اِبنِ ابی الدّنيا ج ۱ ص ۲۰۵) سُبْحٰنَ الله عَزَّوَجَلَّ الله والا خلق چه په لاره روان وي نوبې ضرورته او خاص طور دګنړې په وخت کښې هډو اخوا ديخوا ګوري نه، چه هسې نه شرعاً چه د چا اِجازت نه وي چرې په هغه مې نظر پريوځي! دا د هغه بزرګ تقوىٰ وه، مسئله داده که چرې په کومه زنانه باندې بې اختياره نظر پريوځي اوفوراً ئې ترې واړوي نوګنهګار نه دې. (8) د چا د کور بالکوني [ګيلرئ] يا کهړکئ طرف ته بې ضرورته کتل مناسِب نه دي. (9) په تلَلو يا په پوړو ختلو کوزيدلو کښې د پيزار اواز پيدا نه شي، زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د پيزار "درب" خوښ نه وو. (10) په لاره کښې که دوه زنانه ولاړې وي يا رواني وي نو د هغوئ په مينځ کښې مه تيريږئ ځکه چه په حديثِ پاک کښې د دې منع راغلې ده. (11) په روانه، په ولاړه بلکه په

www.dawateislami.net

ناسته هم د خلقو په مخکښ تُوکل، پوزه سونړکول، په پوزه کښ ګوته وهل، غوږونه ګرول، د بدن خِيري په ګوتو راولاړول، د پردې ځائ ګرول وغيره د ادب خلاف دي. (12) ځيني خلق چه په لار روان وي نو د هغوئ داعادت وي چه کوم شې هم مخښې له ورځي هغه په لتو وهي، داقطعًا غيراخلاقي طريقه ده، په دې کښ د ښپو د زخمي کيدو خطره هم وي، او اخبارونه يا د ليک والا ډبي، پيکټې او د منرل واټر خالي بوتلې وغيره په لتو وهل بې ادبي هم ده. (13) پياده ګرزيدو کښ چه کوم قوانين [قانونونه] د شريعت خلاف نه وي دهغې پابندي کوئ مثلاً دګاډو د تګ راتګ په وخت کښ په روډ تيريدو د پاره که وي نو زيبرا کراسنګ يا د سړک د پاسه [د پيادو] پل استعمالوئ. (14) د کوم طرف نه چه ګاډي راروان وي نو هغه طرف ته ګورئ او روډ باندې تيريږئ،که چرې تاسو د روډ په مينځ کښ ئې اوګاډې راروان وي نو د منډه وهلو په ځائ د موقعې په مناسبت سره هم په هغه ځائ اودريږئ چه په دې کښ زيات حفاظت دې، او د ريل ګاډي د تيريدلو په وختونو کښ په پټړو تيريدل خپل مرګ ته دعوت ورکول دي، ريل ګاډې ډير لرې ګنړلو والا ته د تيريدو په وخت کښ په تادئ يا په بې خيالئ کښ په څه تار وغيره کښ د ښپي د نښتو په صورت کښ د غورځيدو او د پاسه د ريل ګاډي د تيريدو خطره په نظر کښ ساتل پکار دي، او ځيني ځائيونه خو داسې وي چه هلته په پټړئ تيريدل د قانون خِلاف وي،

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مسلم)

خصوصًا په سټيشنو کښې، په دې قانونو عمل کوئ. (15) د عبادت د پاره د قُوَّت حاصلولو په نِيَّت هره ورځ کم نه کم پاؤکم يوه ګينټه [يعني درې پاوه وخت] د ذکر و درود وئيلو سره پيدل ګرځئ، اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ صحت به مو ښه وي. [د ورزش په نيّت] د ګرزيدو غوره طريقه داده چه اول15 مِنټه تيز تيز قدمونه، بيا 15مِنټه درميانه، او په آخِره کښې بيا 15مِنټه تيز تيز قدمونه اخلئ، په دې طريقه ګرزيدو سره به د ټول بدن ورزش کيږي، اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ نظامِ اِنهِضام (يعني هاضمه) به مو صحيح وي، ګيس، قبض، د وجود پيړ والي، د زړه د مرضونو او نورو ډيرو بيمارو نه به هم اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ حفاظت کيږي. په زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مکتبةالمدينه دوه کتابونه (1) د **312** صفحو کتاب ”بهارِشريعت“ حصّه **16** او (2) د **120** صفحو کتاب ”سنّتيں اور آداب“هديه کړئ او اولولئ. د سنّتونو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتونو نه ډک سفر هم دې.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو　　سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو　　ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

سُنّتونه زده کولو د پاره قافله کښې لاړ شئ
رحمتونه ګټلو د پاره قافله کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافله کښې لاړ شئ
شي به ختم مصِيبتونه قافله کښې لاړ شئ

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د سنّتو سپرلي

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبليغ قرآن و سنّت عالمګیرغیرسیاسي تحریک **دعوت اسلامي** په خوشبودارمدني ماحول کښې په کثرت سره سنّتونه زده کیږي او ښودلې شي، هره پنجشنبه (یعنی زیارت) د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کيدونکې د دعوت اسلامي په هفته واره اجتماع کښې د ټوله شپه تیرولومدني عرض دې، د عاشقانِ رسول سره په مدنی قافلو کښې سفر، او هره ورځ د "**فکرِمدینه**،، په ذریعه د مدني انعاماتو رِساله ډکولو او د خپل ځائ ذمه دارته د جمع کولو عادت جوړکړئ. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې په برکت سره به دسنّتو د پابند جوړیدو، د ګناهونو نه د نفرت کولو او د ایمان د حفاظت دپاره د سوچ او فکر ذِهن جوړيږي. **هراسلامي ورور دِ خپل دا ذِهن جوړکړي چه "ماته د خپل ځان او د ټولې دنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي،،** اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خپل ځان د اصلاح د کوشش کولو د پاره په "**مدني انعاماتو**،، عمل او دټولې دنیا د اصلاح د کوشش د پاره په "**مدنی قافلو**،، کښې سفرکول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net